



Download from: ketabton.com




Download from: ketabton.com

د کتاب پېژندنه

||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کتاب نوم : ګل خبرې

راټولونکی : حاجي محمد رزمي

کمپوز او ډیزأین : پخپله لیکوال

شمېر : زر ټو که

Download from: ketabton.com

# سریزه

د نقل قولونو ددغي کوچنۍ مجموعې دپاره دنوم انتخابولو يوڅه وخت را څخه ونيوی. لومړی مي (قيمتي لوستونه) ونوموله، بيا مي په وار سره د (طلايي ويناوي)، (عالمانه -ښووني) او (پخې خبري) نومونه ورته وټاکل، خو په پای کي مي د (ګل خبري) نوم ورته ورکی٠ له دغو نومونو څه د يوه خوښول ځکه مشکل وو چي ټول يي دمحتوياتوپه باب صدق کوي او پر ځای دي خو د(ګل خبري ) نوم مي ځکه خوښ سو چي دغه اصطلاح په پښتو کي خورا عامه ده او ګل خبره هغي لنډي وينا ته ويل کيږي چي په يو څو محدودو لفظونوکي ژور، منطقي او په معنا ډک مطلب وايي او په خوراخواږه ډول يې وايی. دغه راز وينا وي

دنقل قولونوپه ډول ديوه نسل څخه بل ته په ميراث رسيږي او د هر ملت دفرهنګي او ټولنيز انکشاف دسطحي سره سم عموميت او پراختيا پيداکوي .

که ادبيات د ملتونو دژوند هينداره بلل کيږي نو دغه ادبي برخه،چي دلته مو ګل خبرې وبللې،دهينداري هغه برخه ده چي د ملتونو زړه پکښي ښکاري. د د ې معنا داده چي دغه لنډی خبري د انسانانو تر منځ د اړ يکو دبيلوبيلو اړخونو او همدارازد ژوند د خورا پېچلي مفهوم او فلسفي او ټولنيزو پديدو په باب دحکمونو حيثيت لري اوله همدې امله ده چی وايي:د پوه سړي خوله د هغه په زړه کي ده.

ما دغه مجموعه د څو کلونو په بهير کي د سيکالوژی،ټولنپوهني او فلسفي کتابونو، دنقل قولونو د مجموعو او ډکشنريو، انټرنيټ او نورو متفرقو ليکنو څخه او په عمده ډول د هغو بيلا بيلو تربيوي-علمي سيمينارونو، کنفرانسونو، ادبي غونډو او محفلونو په جريان کي را غونډه کړې ده چي په هغو کي دغه راز مقولې د هر ي غونډي د موضوع په مطابق د شعارونو او پوسترونو په ډول پر دېوالونو باندي ځړول کيږي او وينا کوونکي دخپل مطلب د اثبات په خاطراستناد په کوي.

څرنګه چي د زيات شمېر مقولو ويونکي ندي معلوم نو ما د معلومويونکو دنمونو دپايدوني څخه هم صرف نظر وکي . په دغه مجموعه کي را غونډي سوي ويناوي لاندني دوه مهم خصوصيتونه لري :

۱-د متلونو په خلاف،دغه لنډي ويناوي د عوامو کلام نه بلکي هغوی د عالمانو، فيلسوفانو، سيکالو ژيستانو، ټولنپوهانو، سترو ليکوالانو، شاعرانو او سياست پوهانوويناوي يا ليکني دي چي د خپلو پخټونو دروحيې سره سمي يې کړي دي ، په هغوی کي يې د ژوند خواږه او ترخه واقعيتونه بيان کړي دي او دفلسفي او علمي مطلبونونتيجه اخيستنه يې پکښي کړېده، حتي هغه ويناوي چي په اول نظر ساده ايسي او فکر کيږي چي د ټوکو په ډول سوي دي لا هم ژوري معناوي لري او بايد ددرک دپاره يې زيات غورپه کار واچول سي. .

Download from: ketabton.com

۲-د هغوزرهاوو ګل خبرو څخه چې په دغه موده کې ماته په مخه راغلي دي ما يوازې هغه څوداني انتخاب کړي دي چې مثبته او انتباهي جنبه لري. سره له دې چې دهغو لنډو خبروشمېر چې منفي او نا اميده کوونکي اړخ لري دونه زيات دی چې څو کتابونه په ډکيدلای سي خو ما دهغوی د رانقلولو څخه ډډه وکړه ځکه زما په عقيده ژوند يو جبر دی چې بايد په تدبيراو متانت سره تر پاي پوري ورسول سي او حتي هغه کسان چې دژوند څخه يې يوازې د خواريو او کړاوونو برخه په نصيب سوې ده لا هم دا چانس لر لای سي چې لږ تر لږه د خپلو کړاونو سره په رزم کې يو څه خوند او روحي راحت تر لاسه کړي. همدغه د کړاونو او نا خوالو په وړاندې په ميړانه درېدل د مثبت ذهنيت معنا لري. مثبت ذهنيت هغه قيمتي ارزښت دی چې د انسان ژوند ته غناوربخښي او د مايوسی دوژونکي مفهوم پر ځاي د اميد، ښکلا، هنر، خوشحالی، ميني دوستی، زړورتيا، رښتينولي، سولي، ځوان- مردی، عزم، مهرباني، لذت، انصاف، عدالت، کار، زحمت، استعداد، برياليتوب، تقوا، درناوي، غيرت، مقاومت، بخښني حوصلې، متانت، ميړاني، ملګرتيا، پيرزويني، آزادی، معقوليت، هوښياری، اعتماد، رزم بزم، فداکاری او مخ په وړاندې تللو مفهومونه د بشريت په قاموس کې درج کوي .

ددې د پاره چې ددغو ګل خبروڅيني پيچلي برخي د لوستونکود پاره دپوره فهم وړ وګرزي يعني د ځينو داسي انګليسي اصطلاح ګانو د موجوديت له امله چې زموږ په ژبه کې معادلي کليمې ورته نسته او يا هم زموږ په کلتورکي پردی ايسي نومي په ځينو حالتونوکي په ترجمه کې بدلون راوستلي دی‌خو هڅه مي کړې چې دويونکي مطلب او دوينا‌د مفهوم امانت وساتل سي .

بايدو وايم چي ما په قصد سره ددغي مجموعې محتويات دموضوع له مخي د الفبا په ترتيب نه دي اوډلي.زه ددغه راز ويناوو د زياتو مجموعو دمطالعې په وخت کې چې موضوع ګاني يې د الفبا په ترتيب تنظيم سوي وې متوجه سوم چې دغه کار په تېره بياپه هغه صورت کې چې ديوې موضوع په باب زياتي يو شان وينا وي يو په بل پسې ليکل سوي وي د موضوع خوند کموي او خسته کوونکې جنبه ورکوي.ځکه لوستونکي ديوې موضوع په هکله زيات نقل قولونه لولي او تکرار ورته ښکاري.په داسي حال کې چې که لوستونکي په نا څاپي توګه د يوې خوندوري او په زړه پوري وينا سره مخامخ سي نو زيات هيجان توليدوي .البته دالفبا ترتيب د موضوع په پيدا کولوکي د لوستونکي سره مرسته کوي په تېره بيا په لويه مجموعه کې.

جولاي ۲۰۰٦

کليفورنيا

Download from: ketabton.com

# ګل خبري

ـدا دژوند بار ندی چي ستا ملا در ماتوي بلکي خبره داده چي هغه په څه ډول وړې.

لوړي غونډۍ ته ختل په ورو ورو تګ سره کيږيـ .

ـيوه شمعه دبلي شمعي په روښانه کولو سره هيڅ شي د لاسه نه ورکوي.

ـته کولای سې شکايت وکړې چي ګلان اغزي لري او هم کولای سې خوشحاله اوسې چي اغزي ګلان لري.

ـانسانان هغه ملايکي دي چي يو وزر لري، ددې د پاره چي والوزي بايد يو او بل په غيږ کي سره ونيسي.

ـستر او پياړي کسان هغه څوک دي چي د ژوند ډېر تر خه واقعيتونه زغملای سي.

ـکه ته نن د بدلون پر اوږو باندي سفر و نه کړې سبا به هرو مرو د هغه تر پښو لا ندي پروت يې.

ـد انسان زړه د پراشوټ په شان دی،پراشوټ هغه وخت کار کوي چي خلاص سي.

ـخنډونه بېرونکي بلاوي دي او يوازي هغه وخت ستا مخته دريږي چي ته دخپل هدف څخه مخ واړوې.

ـناکامي دا نده چي ته خپل هدف ته ونه رسيږې بلکي ناکامي هغه ده چي هيڅ هدف ونلرې.

Download from: ketabton.com

ــ کله چي موږ وده کوو موږ نه بدلیږوخوهره ورځ په وضاحت سره زموږ اصلیت ځرګندیږي.

ــ زما مشوره داده چي واده وکړه ،که دي ښه جوړه په نصیب سوه نو به خوشحاله ژوند ولرې او که نه نو بیا به فلیسوف در ځخه جوړسي.

دستونزي ځخه دتیښتي ښه لاره دهغې حل کول دي ــ.

ــ هغه ځوک چي دتازه مېوې هیله لري باي د درختي سرته پورته سي.

ــ هغه څه چي د خدای د رضایت سبب کیږي د هغه د مخلوق خدمت دی، یوځوک نسي کولای د خدای سره مینه ولري خو د خپل ورور ځخه کرکه وکړي .

ــ خپل دښمنان وبخښه خو نومونه یې مه هیروه.

ــ د فلسفې زده کړه ددې سبب کیږي چي انسان په ژوند کي په هوښیارۍ سره نا خوښه واوسي.

ــ هیڅ کله چاته په کښته سترګه مه ګوره مګر داچي ته دهغه دراپورته کولو په وخت کي مرسته ورسره کوې.

ــ کله چي یو ځوک د چا کور سوځوي،نو وه! څه عجب اور به ځیني پورته کیږي.

ــ د بشریت په وړاندي باید باور د لاسه ورنکړو،بشریت هغه سمندر دی چي په ځو چټلو ځاځکو نه مورداریږي.

Download from: ketabton.com

ـاصل پت اووقار هغه دی چي دنورو په بې توپیری سره متاثره نسي.

ـښه چانس په ژوند کي یووار دروازه ټکوي.

ـبې غیرته خلک د خپل مرگ څخه دمخه څوواره مړه کیږي.

ـدزړېدو څخه شکایت مه کوه ځکه ډېر خلک دهغه چانس نه پیداکوي.

ـکه غواړې خپله نړی بدله کړې نو خپل فکرونه دي بدل کړه.

ـهغه کسان چي پر خپلو کوچنیو اشتباه گانو باندي اعتراف کوي غواړي خپلي غټي غلطۍ پټي کړي.

ـهیڅوک په هغه اندازه چي پخپله فکر کوي بد مرغه یا نیک مرغه ندی.

ـهغه څوک چي تا په غوسه کولای سي تا فتح کولای هم سي.

ـهغه څوک چي ښېره ایجادوي نسي کولای د بیري څخه ازاد ژوند وکړي.

دتنگ نظر خاوندان معمولا پراخه خوله لري ـ.

ـښځه خوشحاله کیږي چي د هرشي په باب پوښتنه ځیني وسي.

Download from: ketabton.com

ـډېر خوشحاله خلک هغه دي چي دخپلي خوشحالۍ دپاره کم خاص دليل نلري خوفقط خوشحاله دي.

ـدسولي په وخت کي اولادونه خپل مشران ښخوي خو دجګړې په وختکي مشران خپل اولادونه خاوروته سپاري.

ـمورې يوازي هغه څوک هوښيار ګڼو چي زمونږ سره سر ښوروي.

دبايللو په وخت کي دګټونکي اکټ کوهـ.

ـددې دپاره چي کارونه سم تر سره سي نوبايد کميټه دداسي درو کسانو څخه جوړه سي چي دوه تنه يې تل غير حاضر وي.

ـهغه کسان چي دنوروسره په جګړه بوخت دي دخپل ځان سره هم په سوله کي ندي.

ـکه ته دباد لوري بدلولای نسې نو خپله بيړۍ دي ورسره عياره کړه.

ـکه ته دقهر په وخت کي يوه شېبه حوصله وکړای سې نوبه دسلو ورځو د پښېمانۍ څخه ځان وژغورې.

د ماشومتوب خوشحالي د ژوند تر پايه دوام کويـ.

Download from: ketabton.com

_خپلو فکرونوته پام کوه ځکه هغوی ستا په خبرو بدلیږي،خپلو خبرو ته پام کوه ځکه هغوی ستا په عمل بدلیږي ، خپل عمل ته پام کوه ځکه هغه ستا په عادت بدلیږي،خپل عادت ته پام کوه ځکه هغه ستا په کرکټر بدلیږي،خپل کرکټر ته پام کوه ځکه هغه ستا په سرنوشت بدلیږي.

_د خلکو سره ستا اړیکي د بانکي حساب په شان دي،خلک په بانک کي یا پسې اچوي یا یې را باسي،نو پام کوه چي پخپلو خبرو او کړوسره خپل بانکي حساب تش نه کړې.

_دټولو انسانانو تر منځ یو مشترک خاصیت سته ،هغه دادی چي ټول یو دبل سره توپیر لري.

_تر څو چي دي خپل هنر خلکو ته نه وي ښوولي، مه پرېږده چي مړ سې.

_هیڅ شي دیوې مخکنې دقیقې په اندازه لیري ندی.

_ته په هغه ذهنیت مشکل نسې حلولاي چي دغه مشکل یې زېږولي دی.

دیوتن مړینه تراژیدي ده،دملینونو تنو مړینه احصاییه ده-.

_عقل دهغو فکرونو څخه ځان گوښه کوي چي دکمزورۍ سبب کیږي.

_عمل تر الفاظو په لوړ اواز ږغیږي.

_دښځي مړه کاته دېره پیاوړې تلکه ده.

Download from: ketabton.com

ـــمورې ځکه دیو چاڅخه کرکه کوو چي سم يې نه پېژنواو هيڅکله به يې سم ونه پېژنو ځکه چي کرکه ځيني کوو.

ـــد ضايع سوي وخت په خاطر پښېماني لا نوره هم دوخت ضياع ده.

ـــکه ته دخپل ځان سره مينه ونلرې، بل چاته هم مينه نسې ورکولای.

ـــباور دميني ډېر پياوړي ثبوت دی.

ـــحتي که ډېر ښايسته انسان په غوسه سي لا هم بد ايسي.

ـــستر مغزونه دمفکورو په باره کي ږغيږي،متوسط مغزونه د پيښو په هکله خبري کوي او کوچني مغزونه دخلکو په اړه بيان کوي.

ـــهغه څوک چي پيسې بايلي هغه ډېر څه دلاسه ورکوي،هغه څوک چي يودوست دلاسه ورکوي هغه بيخي ډېر څه بايلي،هغه څوک چي اميد دلاسه ورکوي هغه ټوله شيان بايلي.

ـــپرون تاريخ دی،نن سوغات دی، سبا معماده.

ـــمهربان زړه باغ دی،مهربان فکر ريښه ده،مهربانه خبره گل دی،مهربان عمل مېوه ده.

ـــتل په ياد لره چي ته هم دبل هر چا په شان يو خاص انسان يې.

Download from: ketabton.com

دکتاب په باب دهغه دپوښ له مخي قضاوت مه کوه_ .

_تر څوچي ژوندي يې خوشحاله اوسه ځکه بيا به د تل دپاره مړ يې.

_هيڅکله داوبو ژور تيا په دواړو پښو مه ګوره.

_که ته رشتيا ووايې هيڅکله به ضرورت ونلرې چي کم شي په ياد وساتې.

_د ژوندستره کنايه داده چي هيڅوک دهغه څخه ژوندي نسي وتلاى.

_که ستا شوندېان هر وخت ښوري نوزيات څه نسې زده کولاى.

_هر څوک تر هغه وخت پوري نورمال ايسي چي ته يې پېژنې.

_خوشحاله واده دبخت په خزانه کې تر ټولوستره متاع ده.

_د انسانانودزړونو تر منځ ډېر لنډ واټن خنداده.

_هيڅوک دازل څخه کمزوري ندى.

Download from: ketabton.com

ـکه ته ما هېروې،په حقیقت کې زما خخه خپل ځان هېروې.

ـاحمق سړي دخپل ځان جاسوس دی.

ـکه ته صادق او مهربان سړي یې ښایي ځیني کسان ستا د صداقت او مهربانۍ خخه ناوړه استفاده وکړي خوته بیاهم صادق اومهربان پاته سه .

دپښې ښوییدل ښه دي نه دژبې ښوییدلـ.

د میني غشۍ د هدف نیولو تر مخه خپل نښان وليـ.

د ژوند دمفهوم پرابلم دمیني په راز سره حل کیږيـ.

ـدکمزوري انسان د پاره ازادي نسته.

ـتر هغه چا کمزوري سړی نسته چې د تصمیم نیولو توان نلري.

ـهغه څوک چې دخپل ژوند څخه شکایت نه کوي هغه دنورو دتمسخر وړ هم نه ګرزي.

دهر کار خوند دهغه په پیل کولو کې دیـ.

ـملګرتیا دهغو دوو ساعتانو په څېر ده چې یو ډول وخت ښيي.

Download from: ketabton.com

_احساساتو انسان ته ور وښوول چي باید په عقل سره ژوند وکړي.

_هغه کسان چي لږ خبري کوي هغوی دخپل ځان په باب ډېر فکر کوي.

_هر څوک چي ستا څخه مخامخ بیربړي په غیاب کي کرکه درڅخه کوي.

_د په قهر کېدو معنا داده چي څوک د بل چا د ګناه کسات دخبل ځان څخه اخلي.

_واده هغه رومانس دی چي دهغه قهرمان په لومړي فصل کي مري.

_هغه کسان چي په کوچنیو شیانو متاثره کیږي هغوي ستر ګوزارونه زغملای سي.

_شتمني څوک نه بدلوي بلکي دمخ څخه يې پرده پورته کوي.

_بد بینه خلک هغه څوک دي چي مجبوره دي په خوشبینۍ کي ژوند وکړي.

کله چي څوک دبل چا د کرکټړ په باره کي خبري کوي په _حقیقت کي خپل کرکټر تشریح کوي.

_هغه څه چي انسانان سره بېلوي دهغوی تر منځ توپیرونه نه بلکي دهغوی د خودخواهیو ورته والي دی.

_هغه څوک چي په ژبه وهل کوي د سر بیه ورکوي.

Download from: ketabton.com

د هر چا دوست دهیچا دوست ندی ــ.

ــهغه وخت چي لمر ځلیږي هیڅوک نه ورته ګوري کله چي يې تندر ونيسي هر څوک ورته ځير سي.

شهرت دسترتوب دپای ته رسيدلو پيل دی ــ.

ــزموږ په هکله زموږ تر خپلو نظريو زموږ ددښمن نظريې حقيقت ته نيژدې دي.

د شخړي عذاب دهغې تر ګټي ډېر دی ــ.

ــهغه کسان چي دجګړې په وخت کي ترټولوپه لوړ اواز دهيواد پالني چيغي وهي هغوی تر ټولو غټ منفعت پرستان دي.

ــښځه به پخپله هم په اور کي سوځي خو د عاشق په سوځېدلو ډېره خوشحاله کيږي.

د مفکورو اختلاف فاجعه نه بلکي يو فرصت دی ــ.

ــدلويانو په خلاف، ماشومان لږ دې ته اړ دي چي خپل ځان وغولوي.

ــهغه څوک چي دزده کړي دپاره خپل ځان زوړ ورته ايسي ښايې چي هيڅ وخت به ځوان ن نه وو.

Download from: ketabton.com

ـدساده شیانو څخه خوند اخیستل د مغلقو خلکو دپاره وروستۍ پناه گاه ده.

ـقهر سړی دحقیقت څخه لیري کوي.

ـانسان او طبیعت چي سره جمع سي نو هنر ځیني جوړ سي.

ـد ژوند هنر د غیږي ایستلو دسپورت په شان دی، په دغه لوبه کي باید انسان کلک ودریږي او هر ناڅاپي برید ته تیار واوسي.

ـدهر هغه څه هر کلي وکړه چي دځان څخه يې نسې چپولای.

ـدژوند خوند دهغه کار په کولو کي دی چي خلک وايي ته يې نسي کولای.

ـد خپل ځان دخوشحاله کولو ښه لاره داده چي بل څوک خوشحاله کړې.

ـانسان باید شرایط تر خپل کنترول لاندي راولي نه داچي خپل کنترول شرایطو ته په لاس ورکړي.

ـتر تولو ستره غلطي هغه ده چي هیڅ زده کړه ځیني ونسي.

ـیوازي شهامت کولای سي چي ژوند رهبري کړي.

دادب او احترام کولو خوند دښې نڅا دخوند په شان دیـ.

Download from: ketabton.com

دعدالت ځنډول بې عدالتي ده_.

_ددې دپاره چي ژوند دحرکت په حال کي وساتل سي د هدف لرل ضرور دی.

نا اميدي داحمقانو نتيجه ګيري ده_.

_دډوډی پر هېز جسمي روغتيا راکوي او دخبرو پر هېز روحي سلامتيا.

_هلته چي ښځه نه وي هلته به مينه نه وي.

_د قدرت څخه بيا بيا کار واخله ،هغه څه چي اوس مشکل درته ايسي هغه به دي دهري ورځي کار وګرزي.

_ځينو خلکو ته د يوه شي په هکله شک کول دبل شي په باب ړوند باور دی.

_هغه څوک چي په هيڅ نه پوهيږي د هيڅ شي په باره کي شک هم نه کوي.

_زما بدايي زما په شتمنی کي نه بلکي زما د غوښتنوپه لږوالي کي ده.

_ژوند دبايسيکل د چلولو غوندي دی،سړي تر هغو پوري نه ځيني رالويږي چي پايډل وهل يې بس کړي نه وي.

Download from: ketabton.com

ناکامي د بریالیتوب لوي لار ښوددی_.

-هر څوک باید دخپلي بدبختۍ او دخپل خراب سرنوشت په وړاندي ودریږي، ولي؟ ځکه نوبل کم لوی دښمن سته چي باید سړی ورسره وجنګیږي؟

_ستر خلک د طبیعت غوندي ساده ژبه استعمالوي.

_که څوک په تیرو پسي ارمان ته ځان وسپاري داکار دونه ضرر لري لکه دخپل ځان چي د بیا رغېدو دامید څخه بې برخي کړي.

_موفقیت دهغه څه په لاس راوړل دي چي ته يې غواړې او خوشحالي دهغه څه غوښتل دي چي ته يې په لاس دروړې.

_هغه وخت چي خوشحاله يې مه غواړه چي لا نورهم خوشحاله واوسې.

_موږ دخپلي میني د پټولو دپاره دنفرت تر پټولو زیاته هڅه کوو.

توده مینه ژر سړیږي_.

_نفرت یو مړ شي دی، څوک غواړي دمړي دسر شنخته واوسي؟

_سر نه پوهیږي چي زړه په څشي پسي روان دی.

Download from: ketabton.com

ستري مفکورې په زړه کي راپيدا کيږي__.

اميد دخوشحالۍ يو جوړونکي عنصر دی__.

__دا يوه عمومي قاعده ده هغه څوک چي زيات معلومات لري ډېر موفق دي.

__د ژوند دبې ګناهۍ بايلل د پوهي قيمت دی.

ازادي څشي ده؟ خوند دی.خوند څشي دی؟ ازادي ده__.

__په لاس کي دښو ورقو لرل د لوبي د ګټلو دپاره کافي نده بلکي د ورقو ښه لوبول ضروروي دي.

__ژوند که خوشحاله وي که نه وي، که موفق وي او که نه وي په هر صورت په زړه پوري دی.

__هغه څوک چي غوږ نيسي هغه پو هيږي.

ژوند دخوږېدو او رغيدو يوه سلسله ده__.

د ژوند سره مينه داوږد ژوند سره دميني ضد ده__.

__هدف هغه وخت بايللې شمېرل کيږي چي لاس ځيني واخستل سي.

Download from: ketabton.com

ـښه بخت د احمقانو پاسبان دی.

ـدرواغ ویل هم هوښيار سړی غواړي. ښه داده چي احمق سړی تل رشتيا ووايي.

ـضرورت انسان دانتخاب د عذاب څخه ژغوري.

د ژوند ماښام خپل څراغ د ځان سره راوړيـ.

ـهغه څوک چي خپل تېر ژوند يې په ياد نه وي دهغه په تکرارولو محکوم دی.

ـهنر هغه درواغ دي چي موږته حقيقت را پيژني.

ـښکلا تر زرو لا ژر غل تحريکوي

ـيوه ورځ دزمري ژوند د پسه تر سلو کالو ژوند ښه دی.

ـدماديانو غريبي د چارې وړ ده خو دروح غريبي هيڅ چاره نلري.

ـهغه څوک چي کتاب سوځوي هغه يوه ورځ انسان هم سوځوي.

Download from: ketabton.com

ـایا ژوند سل واره تر هغه لنډ ندی چي څوک دي پکښي دیغ سي؟

ښه ماندینه اوروغتیا د نارینه دپاره دجنت نعمتونه دي ـ.

ـهغه څوک چي خپل ځان رسوي دټولني په رسولو کي برخه اخلي.

ـښورښ دهغه چا ژبه ده چي څوک یې پر خبره غوږ نه نیسي.

ـزه ډېر شتمن یم ځکه چي ښه ملګري لرم.

ـد اعصابو ارامي هغه ذهني حالت دی چي سړی بد ترین حالت منلای سي.

ـکیدای سي خوند په تصور کي پیداسي خوخوشحالي یوازي په واقعیت کي را پیدا کیدلای سي.

ـغل فکر کوي چي ټوله خلک غله دي.

ـبشپړه همفکري یوازي په هدیره کي پیداکیدای سي.

ـد مهم هدف په لاس راوړل دهغه تر پریښوولو اسان دی.

ـکله چي فیلان جګړه سره کوي ،دا واښـه دي چي تر پښو لاندي کیږي.

Download from: ketabton.com

قهر يو لنډ ليونتوب دی_.

_ماته مه را ښيه چي ماهی څنگه وخورم بلکي را وښيه چي ماهی څنگه ونيسم.

_د بشر ژوند ددوو ټکو تر منځ زانگي: يو حرکت او بل سکون.

_سخاوت په بخښنه کي ندی بلکي دهغه په موقع کي دی.

لويان ترک سوي ماشومان دي_.

زه بهترين نسم انتخابولای، بهترين ما انتخابوي_.

_کميډي اخلال سوې تراژيدي ده.

داهانت مخنيوی دکميډی او تراژيدی ددواړو هسته ده_.

_دهر چا په باب دهغه دملگرو دمخي قضاوت کيږي

ځکه چي هوښياران او احمقان نه سره جوړيږي.

Download from: ketabton.com

ـموږ په تراژيدۍ کي برخه اخلو خو کميډۍ ته يوازي ګورو.

ـد ملګرو لرل ښه دي خو ورته اړ کېدل يې ښه ندي.

ـموږدهيڅ وظيفې په هکله دونه بې پروايي نده کړې لکه دخپل ځا ن دخوشحاله کولو د وظيفې په هکله چي موکړې ده.

ـمفلس د غله مخته سندري وايي.

ـد يو کار د تر سره کولو مکافات دبل کار د تر سره کولو توان دی.

ـتعليم دملت اداره کول اسانه کوي خودهغه ځپل سختوي،پر هغه باندي حکومت کول اسانه کوي خو د هغه مر يي کول نا ممکن کوي.

ـدميني دوا داده چي بايد نوره هم مينه وسي.

ـخوشحالي د ښه صحت او خرابي حافظې پرته بل شی نده.

بخښنه د پيا وړو خلکو خوی دیـ.

ـپه زده کړه کي تر ټولو لوی هدف دادی چي خپل عصبي سيستم د ځان دوست کړو.

Download from: ketabton.com

ـکه ته يو نا رينه ته ښوونه وکړې ته يو انسان پوهوې ، خو که يوې ښځې ته تعليم ورکړې ته يوه کورنۍ پوهوې.

ـهيڅ لوي هدف بې هيجانه په لاس نه راځي.

ـکله چې لوبه پای ته ورسيږي فيل او پاچا دواړه په يوه بکس کې لويږي.

ـهغه څوک چې هيڅ اشتباه نه کوي هغوي هغه خلک دي چې هيڅ فکر نه کوي.

بې دوستانو ژوند کول لکه بې شاهده مړينه دهـ.

ـزه يوازې هغه وخت بشپړ ازاد يم چې دخپلو شا او خوا خلکو ازادې په رسميت وپيژنم.

ـبېره ډيرې سترګې لري او تر مځکې لاندې شيان ليدلای سي.

ـاحمق تل تر خپل ځان لوي احمق پيداکوي چې د خپل ځان صفت په وکړي.

ـموږ اورو چې بايد خپل دښمن وبخښو خو هيڅکله نه اورو چې بايد خپل دوست وبخښو.

ـخطاکول بشري کاردۍ خو بخښنه اسماني خاصيت دی.

ـدانتقام اخيستل دزخمونو سره تر ژوند کولوپه زيات قيمت تماميږي.

Download from: ketabton.com

ـازادي دښکاري او ښکار تر منځ د واټن څخه پرته بل هيڅ شی ندی.

ـسندري ويونکې مرغۍ خپل قفس هېروې.

ـد انسان درښتيني بډايي اندازه هغه وخت ښه څرګنديږي چي خپلي ټولي پيسې بايلوي.

ـما دهغه چا څخه هيڅ زده نکړل چي تل زما سره سر ښوروي.

ـمخالفت رښتينې ملګر تيا ده.

ـرښتينې مينه کميابه ده خو رښتينې ملګرتيا ډېره کميابه ده.

ـژوندترهغه زيات مهم دی چي موږ يی په هکله ږغيږو.

ـکه غواړې چي د يو چا زړه په لاس در وړې بايد خپل زړه هغه ته ورکړې.

ـراتلونکې بې هينداري ښيښه ده.

ـملګرتياهر وخت خوند لري خو مينه کله کله سړي زخمي کوي.

Download from: ketabton.com

ـکوچنی دښمن وجود نلري.

ـ( سترګه د سترګي په بدل کي) ټوله نړۍ ړندوي.

موسيقي تر فلسفې لا عالي سويه غواړيـ.

ـهغه جېب وهونکی چي خاندي دغله څخه غلا کوي.

ـټول خلک په خوشحالۍ پسي ځغلي خو خوشحالي په دوی پسي روانه ده.

ـژوند دغمونو څخه د ځان د بچولو هنر دی.

ددوست ساتل ددښمن تر ماتولو زيات مهارت غواړيـ.

ـدخوشحالۍ رمز په دې کي دی چي نور خلک په دې متقاعد کړې چي هغوی ستا دخوشحالۍ سبب سوي دي.

ـدژوند معامله داده چي سړی بايد مخ په وړاندي ولاړ سي.

دپوهي په قدر پوهيدل پوهه غواړي، هغه موسيقي هيڅـ

شي نده چي اورېدونکي يی کاڼه وي.

Download from: ketabton.com

د څو تنو ګرانښت د بشريت تر ګرانښت سخت کار دی_.

_ددې خبري پوهيدل چي کم شي خوشحالي منځته راوړي هيڅ امکان نلري، غريبي او شتمني دواړي دهغې په منځ ته راوړلو کي ناکامي سويدي.

_زموږ د استعداد او زموږ د توقع تر منځ فرق د نا خوښۍ تعريف دی.

_ځيني خلک د خپل ژوند لومړۍ برخه داسي تيروي چي _وروستۍ برخه يی په غم ور ولړي.

_دزوږ دوست لرل کمال دی.

_بې پوهي غرورکمزوري دی اوبې غروره پوهه خطرناکه ده.

مايوسي د ناممکن هدف دټاکلو بيه ده_.

_د مسووليت او مايوسۍ احساس دواړه په يووخت کي نسي کېدلاي.

د انسان ژوند دمايوسۍ پر آبله خوا پيل کيږي_.

نا رسېدلي شاعرتقليد کوي، رسېدلي شاعر غلا کوي_.

_زموږ ژوند په هغو شيانو سره نه ټاکل کيږي چي موږته را پيښيږي بلکي د هغو په وړاندي زموږ په عکس العمل سره ټاکل کيږي.

Download from: ketabton.com

ــد ښکاره دښمن لرل دپټ دوست تر لرلو ښه دي.

ــهغه خلک ډېر خوشحاله دي چي کولای سي دخپل ژوند پای دهغه دپیل سره ومونښلوي.

ــهغه څوک چي پوښتنه کوي دڅو شېبو دپاره بېعقل معلومېږي، هغه څوک چي پوښتنه نه کوي د ټول عمر دپاره بېعقل پاته کيږي.

ــهغه څوکي چي دهر چاسره مرسته کوي پخپله لويی مرستي ته اړدی.

ــکله چي زه تر روحي فشار لاندي يم سندري وايم،که دګروم احساس وکړم خاندم،که مي طبيعت خراب سي دوه برابره کار کوم،که دبېري احساس وکړم مخ په وړاندي ځم،که دسپکاوي احساس وکړم خپل نوي کالي اغوندم،که ځان بې باوره را ته وايسي خپل اواز لوړوم،که د غريبۍ احساس وکړم دراتلونکي شتمنۍ فکرونه کوم، که د بې چارګۍ چرت راته پيداسي د خپلو پخوانيو بر ياليتوبونو په باره کي فکر کوم،که ځان بې اهميته راته وايسي خپل راتلونکي هدفونه شمېرم، نوبه هغه وخت زه دخپلو احساساتو بادار يم.

ــکله چي ته اشتباه وکړي هغې ته تر شا ډېر مه ګوره، دهغې دعلت په باب فکر وکړه او مخ په وړاندي ځه.

دوست يوازي ددوستۍ په بيه رانيول کېدای سیــ.

ــبې عقل سړی په خوښۍ پسي واټنونه وهي خو هوښيار سړی يې تر خيلوپښو لاندي لټوي.

ــتېر سوي وختونه نه بدليږي، راتلونکې لا اوس هم ستا په اختيار کي ده.

Download from: ketabton.com

ـژوند کله دخپل ځان سره او کله هم دنورو سره خاموشه جګړه ده.

ـځيني خلک تر هغو پوري خپل زړه نسي پيداکولای څوچي خپل سريی نه وي بايللي.

ـد کتابتون موجوديت ددې خبري يوازنی شاهد دی چي خلک لا تر اوسه هم فکر کوي.

ـهغه دښمن چي تا ماتي ته مجبوره کوي پخپله د ماتي څڅه سخت بيريږي.

ـزخم په مهربانۍ سره ژر جوړيږي.

ـبايد په ياد ولرو چي خوښي يو سفر دي نه دسفر هدف.

ـدښمن ته پام کوه، هغه تر هرڅه دمخه ستا غلطيوته متوجه دی.

ـهوښيار سړي دخپلو دښمنانو څخه تر هغه زياته زده کړه کوي چي يو بې عقل يی د خپلو دوستانو څخه کوي.

دډيري خوښۍ توقع درښتيني خوښۍ په وړاندي خنډـ

دی .

ـهيڅکله د ځان ستاينه مه کوه ځکه ستا دوستان ضرورت نه ورته لري او دښمنان دي باور نه په کوي.

Download from: ketabton.com

ـددښمن په غوځارېدو ژر خوشحالي مه کوه او دهغه په راپورته کولو کي تلوار هم مه کوه.

ـد يو تن دمفکورې غلا ادبي غلا ده خو دڅو کسانو دمفکورو غلاکول څېړنه ده.

ـژوند دکلونو په شمېر نه اندازه کيږي.

ـکله چي ستا دښمن غلطي کوي مه يې اخلالوه.

د مار دنيولو دپاره ددښمن د لاس څخه کاراخلهـ.

ـپه پيسو دوستان نسي را نيول کېدای خو دښمنان په جوړېدای سی.

ـصادقانه مخالفت د تکامل سر چينه ده.

ـکه ته د( زه وخت نلرم) دجملې دويلو څخه ډډه وکړې نو ژربه درته ثابته سي چي تقريبا د هر کار دکولو وخت لرې.

رښتيني لار ښود تل لار ښوونه کويـ.

ـتر غلط معلومات لرلو معلومات نلرل ښه دي.

Download from: ketabton.com

ـدوستان راځي او ځي خو دښمنان سره جمع کیږي.

ـهغه څوک چي در ښتیا ویلو په وړاندي صادق نه وي ددرواغ ویلو په وړاندي هم صداقت نلري.

ـهره ورځ دهغه حاصل له مخي قضاوت مه کوه چي ته یې ریبې بلکي دهغه تخم له مخي قضاوت وکه چي ته یی کرې.

ـهغه څوک چي فکر کولای سي هغه ماته نه خوري حتي هغه وخت چي ماته یی خوړلې هم وي.

ـد جګړې دلاري سوله راوستل یو بې معنا کار دي.

ـدجګړې اصلي هدف هغه وخت څرګندیږي چي پای ته ورسیږي.

ـدښکلي ښځي تعریف دادی: هغه ښځه چي زما سره مینه لري.

ـهدف ته درسېدوسره توده مینه دهغه اور غورځونکي غر په شان ده چي دهغه په څوکه کي دنا کامۍ واښه نسي شنه کېدلای.

ښه جګړه او خرابه سوله وجود نلريـ.

ـزوړ سړی چي مین سي لکه ګلاب چي په ژمي کي وغوړیږي.

Download from: ketabton.com

ـدخپل ځان دخوښ ساتلو لاره داده چي بل څوک خوښ وساتي.

ـژوند دچانسونو لوبه ده.

ـهره خروجي دروازه یو بل ځای ته د ننوتلو دروازه ده.

ـکه موږ د عدالت ساتنه ونکړو عدالت به زموږ ساتنه ونکړي.

ـدابه ښه وي چي لس ګناهکاران د جېل څخه وتښتي نه داچي یو بې ګناه سړي بندي کړه سي.

ـهغه امپراطوري چي د جګړې په زور جوړه سوې وي باید دجګړې په زور وساتله سي.

تر ټولو ښه هینداره ستا زوړ ملګري دی.ـ

ـداحمق سړي زړه دهغه په خوله کي دی خو دپوه سړي خوله دهغه په زړه کي ده.

دجګړې دژرپاي ته رسولو ښه لاره دهغې بایلل دي.ـ

ـځیني خلک خیانت کوي خو دخاین سړي څخه بد وړي.

ـکه کولای سې تر نورو هوښیار اوسه خو هغوی ته مه وایه.

Download from: ketabton.com

ـپو موټ حوصله تر يو من مغز ګټوره ده.

ـځلوېښت کلني د ځوانۍ زوړتياده، پنځوس کلني دزوړتيا ځواني ده.

ـدګرومجن حالت سره سره دنورو په خوشحاله کولو کي زياته خوښي سته.

ـشريک سوی غم نيم غم دی خو که خوشحالي شريکه سي دوه چنده کيږي.

ـکه غواړې چي ځان شتمن احساس کړې ټول هغه شيان وشمېره چي ته يې لرې اوپه پيسو نسي رانيول کېدای.

ـهري ورځي ته متوجه اوسه، ورځ غله ده اوستا دژوند يوه برخه تښتوي.

ـپه ټوله نړۍ کي يوازي يو تن ستا په شان سته چي هغه ته پخپله يې.

ـپه دوږخ کي تر ټولو سوځوونکي ځايونه دهغو کسانو دپاره دي چي دسترو معنوي بحرانونو په وخت کي بېطرفه پاته کيږي.

د کامل بشر توب معنا د نيمګړتياو لرل دي ـ.

ـير مايوسۍ باندي بريالي کيدل هم زړورتيا غواړي هم وخت.

Download from: ketabton.com

ـهغه خالت ډېر جذاب وي چي نارينه دښځي په مړوندونو کي ولويږي نه یی په لاسونوکي.

ـهیڅوک دتل دپاره ګټونکي ندی.

ـهغه څه چي شيطان دهغه په وړاندي مقاومت نسي کولای هغه عفوه کول دي.

قهر انسان دنورو څخه تجريدوي.ـ

لږ مینه راسره کوه خو تل یی کوه.ـ

تشويش تر تولو ورانونکي عادت دی.ـ

بې هدفه ژوند بې اعلانه مړینه دي.ـ

ـجګړه یوه ماجرا نه بلکي یوه ناروغي ده.

ـقدرت فاسد کوونکي دی خو مطلق قدرت مطلق فاسد کوونکي دی.

د خپل ځان په قدر نه پوهېدل لوی زیان دی.ـ

ـهغه څوک چي دنورو ژوند ته رڼاراوړي دخپل ځان څخه هم دهغې مخنیوی نسي کولای.

Download from: ketabton.com

_بهانه کول د ناکامیو ناروغي ده.

_هر مریی یو څه وخت وروسته د بادار خویونه زده کوي.

_دا غوره ده چي سړی پر خپلو پښو باندي مړ سي تر دې چي پر ځنگنونو باندي ژوند وکړي.

_توده مینه بېره د منځه وړي.

_رزم دژوند تر ټولو دقیق تعریف دی.

_پیسې څوک نیکمرغه کولای نسي خو مفلسي څوک بد مرغه کولای سي.

_کله چي مینه توده سي نو احترام د منځه ولاړسي.

_مینه او رڼا پټېدلای نسي.

_عزت اووقار تر ټولو ستره شتمني ده.

_هنر د طبیعت بشپړ توب دی.

Download from: ketabton.com

_هر څوک عاشقً سړی خوښوي.

_هنر دطبیعت راسته لاس دی، طبیعت موږ منځته راوړي یو خو هنر انسانان را څخه جوړ کړي دي.

_مینه د څا په شان ده چي اوبه چیښل یی ښه دي خو په پکښي لوېدل ښه ندي.

_هغه څوک چي د خدای عبادت د پیسو په هیله کوي هغه به په یو ښه معاش د شیطان خدمت هم وکړي.

_خپل دښمنان تل بخښه ځکه بل هیڅ شي په دغه اندازه هغوی نه خجالت کوي.

_هنر دبشر دروح عسل دي چي ددرد او عذاب پر وزرونو باندي را غونډ سوي دي.

مینه د عقل د قانون ماتول دي_.

_خپل ځان ته په سیکه سترګه کتل بې ارزښته احساسات دي.

موسکا تر ټولو ښایسته کالي دي_.

_هنرمند یو خیال پرسته موجوددي چي د عیني نړۍ خیال ته تسلیمیږي.

_ښکلا خاموشه نغمه ده.

Download from: ketabton.com

که ټوله خلک په هنر وپوهیږي نو بیا هغه هنر ندی۔.

۔بخښنه هم لویه خود خواهي ده ځکه هغه پخپله دبخښونکي دستر توب سبب گرزي.

۔هر ښایسته شي د میني وړ دی حتي د هغه خزان لا ښکلي دی.

۔همغه راز چي بدن بې روح مړ کیږي عقیده هم بې عمله ژوند نسي لرلای.

۔ښایست پخپله دخپل ځان د موجودیت دلیل دی.

۔زه ښه بولم چي دیوډېر غریب غیرتمن سړي مریی واوسم خو نه دیو بې غٞیرته قوم پاچا.

۔پیسې د مریتوب یو شکل دی، په دغه مرییتوب کي د بادار او مریي تر منځ هیڅ راز اړیکي نسته.

۔انسان دعقیدې په برکت پرلاره ځي نه دسترگو په برکت.

مینه ترخه خوښي او خوږ غم لري۔.

ښایست په ښه توب کي دی۔.

۔هوښیار سړی یوازي دونه شهرت غواړي چي د سپکاوي څخه ځان په وژغوري.

Download from: ketabton.com

ـیوه مهربانه خبره کولای سي چي د ژمي درې میاشتي تودې وساتي.

ـشهرت دهغو کسانو له خوا ستا دپیژندلو امتیاز دی چي ته یې نه پیژنې او پروایې نه لرې.

ـټوله خوشحال کورنۍ یو شان خوشحاله دي خو ټولي خپه کورنۍ په بیلو بیلو ډولونو خپه دي.

ـهیڅوک پر مخ ازاد ندی، یو د شتمنۍ مریی دی، یو د مقام او منزلت غلام دی او بل بیا د قانون او رسم و رواج بندي دی.

ـانسان ازاد زېږېدلي دی ځکه نو دژوند تر پای پورې په قیدونو کي بند دی .

ـهغه څوک په رشتیا ازاد دی چي یوازې د ممکن شي هیله کوي.

ـشهرت د ښه توب پوخ معیار ندی ځکه هغه یو تصادف دی نه ملکیت.

پیسې هیڅکله جېل ته نه ځي ـ.

ـکه د قدرتمن څخه قدرت واخستل سي بیا پر لار باندي کوڅ کوڅ نه ځي.

ـانسانان د سرنوشت بندیان ندي بلکي د خپلو ذهنیتونو بندیان دي.

Download from: ketabton.com

ـهیڅوک کافي اندازه پیسې نلري.

ـښه ده چي سړی هم په جنت کي دوست ولري هم په دوږخ کي.

مینه ددوو تنو تر منځ خود نمایی دهـ.

ـدمیني لومړي کاته د هوښیارۍ وروستۍ شېبه ده.

ـهغه څوک چي دوستي شلوي دلویه سره ښه دوست نه و.

ـضرور نده چي انسان په هدیره کي تر ټولو شتمن اوسي، هلته سوداګري نسته.

ـته باید هرو مرو هغه کار تر سره کړې چي باید تر سره یی کړې.

د بد ګمانۍ مینه لا خوړه ويـ.

د شان او شوکت سړک هم په قبر سره ختمیږيـ.

ـپیسې غوږونه نه لري خواورېدلای سي، پښې نه لري خو ځغستلای سي.

دمرغانو دپاره ځالګۍ ، دانسانانو دپاره دوستيـ.

Download from: ketabton.com

ـځیني خلک هغه کتاب نه لولي چې مفت یې پیداکړي وي.

ـد ښایستې نجلۍ شپېلکی د پړانګ تر غړومبهاري لا د لیري څخه اورېدل کېدلای سی.

ـهغه لاس چې نوروته څه ورکوي ډېر شیان راټولوي.

ـپر هر کونج باندي وروګرزه، ښایی هلته به یوه نوې لاره یا یوه پټه دروازه تاته منتظره وي.

ښه سړی د خپل ځان ښه ملګري دیـ.

ـدښه حکومت په وخت کي زوروران کمزوروته غاړه ږدي، د خراب حکومت په دوران کي کمزوري دزورورو اطاعت کوي.

ـپیسې ښه بوی لري که څه هم چټلي وي.

ـهر حکومت غواړي چي خپل خلک خوښ وساتي خوښه حکومت هغه دی چي دخلکو دخوښ ساتلو په چل پوه سي.

دوستي او ملګرتیا دوهم ژوند دی- .

ـژوند داسي تیاتر دی چي په هغه کي زیاتره وختونه خراب خلک تر ټولو ښې چوکیاني نیسي.

Download from: ketabton.com

ـعامه پیسې د مقدسو اوبو په څېر دي، هر څوک غواړي وي څښي.

ـژوند دخوشحالۍ د شېبو په اندازه لنډ او دغم دشېبو په اندازه اوږددی.

ـزخمي سوی دوست سخت دښمن دی.

مینه هوښیاران او بې عقلان یو شان رندوي ـ.

ـکه وخاندې نړۍ به در سره وخاندي ، که وژاړې یوازې به پاته سې.

ښه دوست ستا یو بل ځان دیـ.

ـدا به ښه وي چي سړی ددوست سره په یوه زولانه تړلی وي تر دې چي ددښمن سره په باغ کي گرزي.

ژوند دښو هیلو بې پایه بهیر دی، ځکه نو ژوند ښه دیـ.

مړینه هغونه طبیعي ده لکه ژوندـ.

ـژوند دامیدونو لاره ده، راځۍ چي پر ولاړ سو پر هره خوا چي مو بیایی.

Download from: ketabton.com

د خپلو ملګرو صفت کوه ، ددښمنانو په باب چپ اوسه_.

_هغه دوست ته متوجه اوسه چي تا زورولي وي.

_ژوند څکه ښکلي دی چي جبر دی.

_مینه د امید پر اوړو باندي ژوند کوي او په نا امیدۍ کي مړه کیږي یعني مینه هغه اور دی چي په تیلو پسي ګرزي.

_کله چي پیسې خبري کوي حقیقت خاموش وي.

_بې ملګري انسان دهغه چا په شان دی چي راسته لاس نلري.

_عاشق مریی او معشوق بادار دی.

د بادار سترګي دهغه تر پښو او لاسونو ډېر کار کوي_.

_وفاداره خلک د میني دخوند په معنا پوهیږي او بې وفا خلک دهغې د تراژیدۍ په معنا پو هیږي.

_شنې ستر ګي وایی یا مینه را سره وکړه یا موږ مرو، توري سترګي وایی یا مینه را سره وکړه یا به دي مړ کړو.

_مینه او جګړه یو شان دي؛ په دواړو کي دیو راز چلونو څخه کار اخستل کیږي.

Download from: ketabton.com

ـدهغي ښځي سره مينه کول چي تا توهينوي داسي کار دی لکه څوک چي دتوري څخه په ژبه عسل څټي.

ـددو دوستانو دپاره د ستني سوری په کافي اندازه پراخ دي خو ددوو دښمنانو دپاره ټوله نړی تنګه ده.

ـهغه څوک چي د خپل ځان باداردی کېدای سي چي دنورو بادار هم واوسي.

ـهغه څوک چي ددوو بادارانو نوکر وي ضرور بايد يوه ته درواغ وايی.

ـشر مښ به خپل غْاښونه دلاسه ورکړي خو خپل خوی به د لاسه ورنکړي.

ـد خلکو سره داسي ژوند کوه چي ګني خدای دي ويني او د خدای سره داسي ږغېږه چي ګني خلک دي اوري.

ـهلته چي پسيې مخته رهي وي ټولي بندي دروازې خلاصيږي.

ـخپل ځان د اوسپني په دېوال مه ساته بلکي دملګرو په ټولۍ يی وساته.

ـکه ما کولای سوای چي خپل ژوند بيرته د سره پيل کړم ما به د موسيقي څخه پرته بل کار نه وای کړي.

ـکله چي زه يو ملګري د لاسه ورکوم يوه اندازه مړ کېږم.

Download from: ketabton.com

ــدپیسو شکل ځکه ګردی دي چي هغه باید دهر چا څخه وځغلي.

ــباید انسان هم په جنت کي ملګري ولري هم په دوږخ کي.

کله چي زه پیسې ولرم هر څوک ماته ورور وایی ــ.

ــواده هغه یوازنۍ جګړه ده چي په هغې کي دوه دښمنان یو ځای سره بیده کیږي.

ــموسیقي دانسانانو تر منځ د زړه خواله کولو تر ټولو بشپړه او ښکلې لاره ده.

ــملګر تیا په نورو ټولو حالاتو کي دوام کولای سي خو نه د میني او ددفتر په شرایطو کي.

ایا داسي زړه هم سته چي موسیقي دي یی ویلي نکړي؟ــ

ــد هر حکومت ورانېدل دهغو اصولو د شوږېدو سره یو ځاي پیل کیږي چي حکومت دهغو پر بنسټ جوړ سوي دی.

ــبې عقل انسان د بد سلوک څخه خوند اخلي او په ښه چلند شر میږي.

ــهیڅ شی د بیري په اندازه د انسان څخه د عقل او عمل توان نسي اخستلای.

ــزه چي موسیقۍ ته غوږ نیسم داسي حالت را کوي لکه چي زما دیوازیتوب حجره یو دم په خلکو ډکه سي.

Download from: ketabton.com

ـپه کال کي یو دوست په سختۍ سره پیدا کېدای سي خو په یو ساعت کي په لس هاوو دوستان دلاسه ورکول کېدای سي.

ـهغه څوک چي غواړي پر خلکو حکومت وکړي لومړی باید پر خپل ځان باندي حاکم سي.

ـکه د موسیقۍ اواز د طبیعت تر ږغونو زیاته اغېزه لري په دې سبب ده چي طبیعت موږ ته دژوند په باره کي احساسونه را کوي خو موسیقي موږ ته احساسونه معنا کوي.

ـجګړه غله په نس مړوي خو سوله هغوی په دار ځړوي.

دوستي د عسل په شان ده خو ټوله مه خوره_.

ـمه پرېږ ده چي لومړی ناکامي دي درزم څخه واچوي.

ـتر اندازې زیات ازادي انسان او ټولنه مریتوب ته بیایی.

ـبر یالیتوب حتي احمق سړی لا هو ښیار ایسوي.

ـازاد فاسد خلک خرا بترین غلامان دي.

ـهغه غل چي د غلا کولو چانس نلري ځان صادق سړی بولي.

Download from: ketabton.com

ــهمغه راز چي زه نسم کولای چي مريی واوسم، نه غوارم چي بادار هم واوسم.

ــهغه څوک چي ډېر پو هيږي لږخبري کوي.

هيڅوک د پټ استعداد ستاينه نه کوي.

ــهغه څوک چي ددار څخه بيريږي هيڅکله به غل ځيني جوړ نسي.

ــهغه يوازنی راز چي ښځه يی ساتلای سي هغه دي چي دا په خبره نه وي.

ــزړورتوب د ببري په وړاندي مقاومت کول او پر هغې باندي غلبه کول دي نه دهغې پر موجوديت باندي سترگي پټول.

ــکوچني غله په زندان کي لويږي ، لوی غله پر چوکۍ باندي کښېني.

ــپه ژوند کي تر ټولو سخت کار سم فکر کول دي.

پسته ژبه هډوکي ماتويــ.

ــد احمق ژبه دومره اوږده ده چي دده خپل سر ور پرې کولای سي .

Download from: ketabton.com

ـښه ښځه پټه خزانه ده، هرنارینه چي یی کشف کړي هغه به د نړۍ تر ټولو نیکمرغه انسان وي.

ـهر وخت چي په قهر کېږې اول دهغه دعواقبو به باره کي فکر کوه.

ـنفرت دهغي سکروټي په شان دي چي اول پخپله تا سوځوي.

ـمریانو ته ډوډۍ او کالي وررسیږي خو د خبرو کولو حق نلري ځکه بیریږي باداران گومان ونکړۍ چي دوی مخالف فکر کوي.

ـپه امید سره سفر کول منزل ته تر رسیدو ښه خوند لري.

ـکار ددرو مصیبتونو څخه تا ساتي: دیغت، خیاثت او احتیاج.

ـلوږي د زحمتکښ سړي کورته سترگي نیولي وي خو دورننوتو جرئت نسي کولای.

ـد کارگر سړي خوب خوږ دی.

ـنړۍ د زینې په شان ده؛ یو سړی باندي پورته کیږي بل ځیني را کښته کیږي.

ـښه سړی طرفدارانوته ضرورت نلري.

ـځواني هم دشتمنۍ د پاره ښه وخت دی هم دغریبۍ دپاره.

Download from: ketabton.com

ـتر جګړې وروسته دونه ډیموکراسي نه پاته کیږي چي په ساتلو دي وارزي.

ـحسادت له دې نه پرته بل شی ندی چي څوک د خوشحاله دښمن په وړاندي ځان یوازي احساس کړي.

ـښځه په انتقام اخستلو ډېره خوشحاله کیږي.

ـزړېدل د ځوانۍ بایلل نه بلکي د فرصتونو او پیاوړتیا بل پړاو دی.

ـکه غواړي چي اټومي جګړه وګټې کوښښ وکړه چي هغه پیل نسي.

ـحقیقت وجود لري خو درواغ کشف کیږي.

ځوانه وینه زوړ فر مان نه مني ــ.

ـد بانک جوړول او دبانک وهل یو دبل سره څه توپیر لري؟

ـیوازي کاچوغه ښه پو هیږي چي د دېګ په تل کي څه شي سته.

ـژوند د استاد په مخ کي د ویلون دږغولو په شان دی چي د وخت په تېرېدوسره زده کیږي.

Download from: ketabton.com

د هنر تاریخ دانسان دراژوندي کېدو تاریخ دی__.

__په نړۍ کي داسي څه نسته چي د علاقې وړ نه وي خو کېد ای سي چي بې علا قې سړي وجود ولري.

__هغه څوک چي په حل نه پو هیږي هغه اصلا په پرابلم سم نه پو هیږي.

__ژوند دحقیقت او درواغو داسي مجموعه ده چي کله درواغ په حقیقت بدلیږي او کله هم بر عکس.

__څلوېښت کلني د ځوانۍ زوړتیا ده او پنځوس کلني د زوړ تیا ځواني.

__نا خوښي زموږ د هیلو او زموږ د استعدادونو ترمنځ د توپیر څخه عبارت ده.

هغه څوک چي دوستان لري هیڅکله بې ګټې نه وي__.

__ځوان دزوړ تیا په معنا نه پوهیږي او زوړ هېروي چي ځواني څنګه وه.

__غلط هدف ته درسېدو دپاره نېک عمل کول بې معنا کار دی.

__هر لیکوال او هنر مند پخپلو اثرونو کي خپله سوانح لیکي.

ښځه چي خاموشه وي دوه برابره ښه ایسي__.

Download from: ketabton.com

ـپه کنفرانس کي هیڅکله ستره مفکوره نه زیږي خو هلته ډیري احمقانه مفکورې مري.

ـد جګړي پاي یوه سپینه شنخته ده چي د مړي نوم پر لیکل سوی وي.

زما دپاره امیدونه دساعت تیري ښه وسیله ده_.

ـداسي ذهنیت ولره چي د ټولو شیانو په وړاندي خلاص وي خوپه هیڅ شي پوري تړلي نه وي.

ـهغه څه چي باید موږ ځیني وبیریږووهغه پخپله بیره ده.

ـهیله لرم چي زما کور تل زما د ملګرو دپاره کوچني وي.

ـخوښي ددي دپاره ده چي باید دنورو سره شریکه سي.

ـنن پخپل ټول وس سره ښه ژوند وکړه ځکه چي نن ستا د پاته ژوند لومړۍ ورځ ده.

ـسمندر دبې غیرته سړي څخه کرکه کوي.

ـسولي ته لاره نسته بلکي سوله پخپله لاره ده.

Download from: ketabton.com

د خوشحاله واده راز به تل پټ پاته سي ـ.

ـځيني سياسي ويناوي د نه دفاع کيدونکو کارونو ددفاع هڅه ده.

ـزه دهغو محکومينو څخه کرکه کوم چي دخپلو جلادانو ستاينه کوي.

ـهغه کورنۍ چي په ګډه عبادت سره کوي په ګډه ژوند سره کوي.

ـهيڅوک خپل ځان په خوب کي اتيا کلن نه ويني.

ـهغه دښمن ته متوجه اوسه چي ستا د ګوزار جواب نه در کوي ، هغه نه تا بخښي اونه تا پرېږدي چي ته خپل ځان وپېژني.

ـځيني کسان خپل روح خرڅوي او په هغو پيسو ارام وجدان رانيسي.

ـددو شيطانانو څخه زه تل هغه يو انتخابوم چي پخوا مي ندۍ ازمايلي.

ـهغه زړه چي دښکلا سره مينه لري هيڅ وخت نه زړيږي.

ـښه ملګرى هغه سوغات دي چي ته يې خپل ځان ته ورکوې.

ـبېره هغه ماليه ده چي وجدان يې د ګناه په مقابل کي ورکوي.

Download from: ketabton.com

ـديوه دښمن لرل ډېر زيات دي او دسلو دوستانو لرل ډېر لږ دي.

ـهغه څوک چې د کوچني شي په قدر پو هيږي ستر شيان لاسته وروړي.

ـراتلونکي ژوند دهغو کسانو دی چې د خپلوهيلو پر ښکلا باندي باور ولري.

ـپه هغه ورځ چې ته ونه خاندې هغه ستا دژوند لويه ضايعه ده.

ـخوښي هغه عطر دي چې تر څو پوري چې تا پخپل ځان نه وي وهلي بل چاته دي خوشبويی نه رسيږي.

ـپه ډک زړه کي د هر شي دپاره ځای سته خو په تش زړه کي د هيڅ شي دپاره ځای نسته.

ـد نا ممکن کليمه يوازي داحمقانو په قاموس کي ځای لري.

ـهيله د قدرت او برياليتوب مور ده.

ـروښانه زړه ډېر ژوند کوي.

ـحکمت دحيرت څخه را زيږي.

Download from: ketabton.com

ـمینه په موسکا سره پیل کیږي،په مچولو سره وده کوي او داوښکو په ځاځکو سره پای ته رسیږي.

ـپه نړۍ کي یوازي یوه لویه خوښي سته، هغه داده چي ته دیو چا سره مینه ولرې اوهغه هم ستا سره مینه ولري.

ـکه غواړې چي ستا همسر او یا همسره په غور ستا خبرو ته غوږ ونیسي او ژوره توجه ورته وکړي نو د خوب په حالت کي خبري کوه.

ـیا مینه راسره وکړه اویاهم کرکه را څخه ولره خو دخپلي بې تفاوتۍ څخه مي وساته.

ـکله چي په قهر سې تر سلو پوري حساب کوه.

ـحتي د زرهاوو کیلو مترو لار هم په لومړي ګام سره پیل کیږي.

ـبریالیتوب دهغو کسانو په برخه کیږي چي د ډېر مصروفیت لامله دهغه په هکله فکر نسي کولای.

ـدسختو کارونو کول اسانه دي ځکه د هغو په کولو کي رقابت نسته.

ـتاریخ ښوولې ده چي ځیني خلک هغه وخت معقوله لاره غوره کوي چي نوري تولي لاري یې ازمایلي وي.

ـدا ښه ده چي سړی خوله پټه ونیسي او بې عقل ښکاره سي تر دې چي خبري وکړي او دغه شک په یقین بدل سي.

ـستا داجازې څخه پرته هیڅوک تا توهینولای نسي.

Download from: ketabton.com

د چلند کمزوري دشخصیت په کمزورۍ بدلیږي_.

_زه هغه وخت ډېر غښتلي وم چي پر خپله کمزورۍ باتدي مي وخندل.

_نن هغه سبا دی چي ته یی پرون په اندېښنه کي وې.

تر ټولو ښه ښکلا هغه ده چي پخپل ځان خبره نه وي_.

_هیڅ وخت داحمق سره دلایل مه وایه ځکه ښایی خلک ستاسي تر منځ په توپیر پوه نسي.

_هغه نارینه ډېر نیکمرغه دی چي د ښځي دپاره لومړي عشق وي خو هغه ښځه نیکمرغه ده چي د نارینه دپاره وروستۍ مینه وي.

_د خپرو په جګړه کي دواړي خواوي د خوړېدو ادعا کوي خو د توپک په جګړه کي حتي زخمي سوي طرف لا هم خپل ځان فاتح بولي.

_خاموش کسان دویلو دپاره زیات شیان لري.

_کله کله دځان سره فکر کوم چي ایا نارینه او ښځي یو دبل سره وړ دي که نه؟ خوښه به وي چي دوۍ یو دبل په ګاونډ کي سره واوسیږي اوکله کله ملاقات سره وکړي.

Download from: ketabton.com

ــنیژدي کسان مو تر هر چا زیات خوږولای سی.

ــحتي غیر مذهبي کسان لا هم باید معنوي ارزښونو ته عقیده ولري.

ــدانسان تنزل هغه وخت پیل کیږي چي پر ځان باندي د کامل انسان ګومان وکړي.

د موفقیت لاره د ناکامیو څخه تیریږي ــ.

ــښه سر او ښه زړه یو پیاوړي ترکیب دی، خو که سواد لرونکې ژبه یا قلم ور سره یوځای سي بیا نویو ډېر اعلي شي ځیني جوړیږي.

ــد عزت غریبي تر بې عزته شتمنۍ ښه ده .

مینه یوازي په مینه کولو سره زده کیږي ــ.

ــدهغه چا دلاسه چي اشتباه نه خیژي دهغه دلاسه هیڅ شي هم نه خیژي.

ــهغه کار چي ته یی نسې کولای مه پرېږده هغه څه اخلال کړي چي ته یی کولای سې.

ــملګرتیا پناه ورکونکې درخته ده.

ــد بحث د ګټلو هنر مقابل لوري ته په غوږ نیولو کي دی، که څه هم ستا مخالف وي.

Download from: ketabton.com

د نارینه دپاره لویه شتنمي خوا خوږې ماندینه ده_.

_بې امیده پیاوړتیا امکان نلري.

_که غواړې کشف کړې چي ستا دښمن دڅښي څخه زیات بیریږي نو هغو شیانوته پام کوه چي دي یی ستا دبیرولو دپاره په کار اچوي.

_یوازي بې غیرته خلک ادعاکوي چي دوي بېره گردسره نه پېژني.

_هغه انسان په رشتیا ازاد دي چي حتي د بې شهرتۍ په وخت کي لا د مصونیت احساس کوي.

_قهر سړي کوچنی کوي او بخښنه یې تر اوسني حالت زیات غټوي.

_د نورو په عقل ژوند کول د مریتوب څخه پرته بل شی ندی.

_هیڅکله هغه څه مه هېروه چي یو څوک یی د قهر په وخت کي درته وایی.

_په اشتباه کولو مه شر مېږه که نه نو بیا هغه په جرم بد لیږي.

_مخکي تر دې چي د انتقام اخستلو فکر وکړې دوه قبرونه وکینده.

Download from: ketabton.com

ـرشتیا ویل ښه پالیسي ده په تېره بیا چي پیسې پکښې وي.

تر بخښني لوی انتقام نسته ـ.

زوړعمردژوند تاج او زموږ دژوند وروستۍ صحنه ده ـ.

ـ که غواړې چي خلک ستا په باب ښه فکر وکړي نو دځان ستاینه مه کوه.

زړور سړی که څه هم یو تن وي بیا هم اکثریت جوړوي.

ـخپلو هیلو او ارمانونوته دي ډېره پاملرنه وکړه ځکه هغوی ستا دروح ماشومان دي.

ـهغه څوک چي مخالف نلري هیڅ پلوي هم نلري.

ـبدبینه سړی څوک دي؟ هغه څوک دی چي دهر شي په بیه پو هیږي خو دهیڅ شي په ارزښت نه پوهیږي.

ـد ښځي سره مینه درلودل دهغې د ښایست له امله نه بلکي د ښځي ښایست ستا سره دهغې دمیني له امله دی.

ـحقایق له منځه نه ځي بلکي ستر ګي باندي پټیږي.

ـ کله چي ټول خلک یو شان فکر کوي په حقیقت کي هیڅوک کافي اندازه فکر نه کوي.

Download from: ketabton.com

ــمینه په کنډوالو کي ماڼۍ اباد‌وي.

ــهیله هغه وخت په هدف بدلیږي چي د لاسته راوړلو دپاره یی ګام پورته سي.

بې سخاوته انسان دهغي ښمعي په شان دی چيــ

رڼا نلري.

ــقدرت باید تل تر څارني لاندي ونیول سي ، هغه قدرت چي په پټه او په تېره بیا دملي امنیت په پلمه چلول کیږي دوه برابره خطر ناک دی.

ــپه عصري ټولنه کي دهغو خلکو څخه وتښته چي هیڅ شي ته عقیده نلري.

ــکه ته دخلکو په باب تبصرې کوې نو دهغوی ددوستۍ چانس دلاسه ورکوې.

ــنړۍ دژوند کولو دپاره خطرناکه ځای دی ، دا دهغو خلکو لامله نده چي خراب کارونه تر سره کوي بلکي دهغو کسانو د لاسه ده چي د بدیو مخنیوی نه کوي.

په ترلي موټ دلاس روغبړ نه کیږيــ.

ــموریټول وایو چي دسولي سره مینه لرو خو دهغې په خاطر هغه راز زخمونه نه منو چي دجګړې په خاطر یی منو.

Download from: ketabton.com

ـنبوغ په سلو کي يو الهام دی اوپه سلو کي نهه نوي دخولو تويول دي.

ـزحمتکښي د انسان دکرکټر ښکارندوی ده، يو شمېر خلک خپل لستوڼي را نغړي، ځيني کسان خپلي پزي په هوا نيسي او ځيني خلک اصلا هيڅ حرکت نه کوي.

ـځيني خلک دژوند دپاره په تلاش کي دونه ورک دي چي ژوند کول يی پر مخ هير کړي دي.

ـد اخلاقو، عدالت او مساوات اصول د جنتری په اوښتلو سره نه بدليږي.

ـته پخپله بايد دهغه بدلون يوه برخه واوسې چي ته يی غواړې.

ـد پرمختګ دپاره ډيري لاري سته خو دپر ځای دريدلو لاره يوه ده.

ـرښتيني پوهه هغه ده چي انسان دخپلي نا پوهی په درجه وپوهيږي.

ـد آمر او لار ښود ترمنځ فرق: آمر وايی ځه ولاړسه! او لار ښود وايی راځی چي ځو.!

ـکله چي سمندر ارام وي هر څوک غواړي چي د بېړی جلو په لاس کي واخلي.

ـکه غريب سړی لاس ونه مينځي چټل ورته ويل کيږي او که يی ومينځي ورته وايی چي اوبه دي ضايع کړې.

ـهغه څوک چي پوهيږ ي چي کومي خواته بايد ولاړسي ټوله خلک لار ورکوي.

Download from: ketabton.com

ـهر پرابلم په لاس کي ستا دپاره يو سوغات لري.

دژوند کيفيت دانسان دزړورتيا په تناسب دي_.

که موږ پخپل ځان کي عيب ونلرو دنورو دعيب د ليدلو څخه به هم خوند وانخلو_.

ـمهمه نده چي ته په کوم حالت کي يې. ته بايد هيڅکله، هيڅکله، يعني هيڅکله نا اميده نسې. هيڅکله مه هېروه چي پخوا ته چيري وې، اوس چيري يې او چيري غواړې ولاړ سې!

ـد لومړي ګام پورته کول هغه کرښه ده چي ګټونکي د بايلونکي څخه بېلوي .

ـزما دپاره د نقل قولونو لوستل داسي ګټور دي لکه خپل ورځني ويټامينونه چي خورم.

Download from: ketabton.com